AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پرهيز شگيوال
۲۰۲۶/۰۹/۰۱

# غزل

چې ولې اوس هم له اسمان نه راځي؟
پرموږ د ګاڼو چې باران نه راځي

ګونډې يې ايښي د مسکين په مرئ
سره يې رحم په انسان نه راځي

غم او خوښی کې يې غريب خدمت کړي
ددوی ښادی،غم ته بيا خان نه راځي

د يو مومن به څه سکون وي هلته
چې يې ترغوږ غږ د اذان نه راځي

داستا دليل ماته ارزښت نه لري
چيرته چې ګند نه وي مچان نه راځي

يوازې ښځو باندې هر وخت راځي
چې په سړي ولې پېريان نه راځي؟

کاش چې مورجانه مې ژوندۍ وه راته
پرته له دې بل غټ ارمان نه راځي

دا چې رڼا نه کوي بله نه ده
دې مړې ډيوې ته پتنګان نه راځي

له شګيوال پرهيز مطلب چې واخلې
ځنګ ته يې بيا ځيني ياران نه راځي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ